# كان رجلٌ يُدَايِنُ الناسَ، فكان يقول لفتاه: إذا أتيتَ مُعسِرًا؟ فتجاوز عنه، لعل اللهَ يَتجاوزُ عنا

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «كان رجلٌ يُدَايِنُ الناسَ، فكان يقول لفتاه: إذا أتيتَ مُعسِرًا فتجاوز عنه، لعل اللهَ يَتجاوزُ عنا، فلقي اللهَ فتجاوز عنه». «يو سړی و چې خلکو ته به يې پور ورکاوه، نو خپل غلام ته به يې ويیل: کله چې داسې سړي ته ورغلې چې په تنګستيا کې و نو ورته ترې تېر شه، ښايي الله مونږ ته زمونږ - له ګناهونو - څخه تېر شي، نو د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې له ګناهونو يې ورته تېر شو».
[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه سړي په اړه خبر ورکوي چې له خلکو سره به يې په قرض معامله کوله او يا به يې په نېټه خرڅول کول، او خپل هغه غلام ته به يې ويیل چې له خلکو يې د قرضونو غوښتنه کوله: کله چې قرضدار ته ورغلې او هغه څه نه درلودل چې شته قرض پرې د ناتوانۍ له امله ادا کړي، نو "ورڅخه تېر شه"؛ دا چې يا ورته وخت ورکړې او په غوښتنه کې پرې سختي ونه کړې، او يا دا چې څه ورسره وي هماغه ورسره ومنې اګر که کم هم وي، پدې تمه چې الله تعالی ورته له ګناهونو څخه تېر شي او بخښنه ورته وکړي، نو کله چې مړ شو الله ورته بخښنه وکړه، او له ګناهونو يې ورته تېر شو.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee